

# کاناډا ته نوی راغلي یاست؟ سی ار ای (CRA) ستاسو سره مرسته کولاې شي.

ډیرې هغې فایدې چې خلک په کاناډا کې ورځخه خوند اخلې د مالیې ورکونې له لارې شونې شوې.

> د کاناډا د ماشوم د فوایدو په مرستې سره، زه وتوانیدم چې خپل ماشوم په ماشوم روزنه کې شامل، او خپله په فعال ډول په کاناډا کې خپله لومړۍ دنده ولټوم.
>
> اندریا کارولینا

## څومره تاسو ترلاسه کولاې شي؟

که تاسو پر عایداتو د مالیاتو د موخو پخاطر د کاناډا اوسیدونکی یاست (تاسو په کاناډا کې مهمې اړیکې لرې لکه کور، میرمن، یو د عرفي قانون ملګرى/ملګرۍ، یا هم نږدې اړمند کسان)، ډیر فواید، کریډټ شتون لري، او داسې پروګرامونه شته چې ستاسو سره په مالي لحاظ مرسته کوې.

**د شیانو او خدماتو مالیه / د همغږې خرڅلاوونو مالیه (GST/HST)** -کریډټ تر **$456** امریکایي ډالرو پورې د یو پر شرایطو برابر کس لپاره او تر **$912** امریکایي ډالر د یو پر شرایطو برابرې جوړې د دوو ماشومانو لپاره.

**د کاناډا د ماشوم فواید (سی سی بی)** – تر **$6,833** امریکایي ډالرو د هر هغه ماشوم لپاره چې عمر یې تر 6 کاله کم دې او تر **$5,765** امریکایي ډالر د هر هغه ماشوم لپاره چې عمر یې د 6 څخه تر 17 کالو پورې وي.

**د معلولیت د مالي کریډټ** – پر شرایطو برابر کسان چې معلولیت لرې یا هم د هغو ملاتړې د کورنۍ غړې کولاې شي تر **$8,662** امریکایي ډالرو پورې د مالیې کریډټ چې د بیا تادیې وړ نه دی ترلاسه کړې. هغه کسان چې کال په پای کې یې عمر یې د 18 کلونو څخه ټیټ وې کیداې شي تر **$5,053** امریکایي ډالرو پورې مبلغ د ترلاسه کولو شرایط ولرې. و **canada.ca/disability-tax-credit** ته لاړ شئ.

## تاسو څنګه فواید او کریډټ ترلاسه کوی؟

څنګه مو چې**خپل د ټولنیزې بیمې شمیره (SIN) د سرویس کاناډا څخه ترلاسه کړه** CCBاو GST/HST کریډټ غوښتنه وکړئ. دا چې معلوم کړې چې څنګه SIN ترلاسه کړې، و **canada.ca/social-insurance-number** ته لاړ شئ. که چیرته تاسو ماشومان لرې، **د کاناډا د ماشوم د فوایدو د غوښتنلیک فورمه خانه پورې کړئ (RC66)** او په **کاناډا کې د وضعیت او عاید د معلوماتو فورمه ډکه (RC66SCH)** او سی ار ای ته یې واستوې.

که چیرته تاسو ماشومان نلرې، **د ځان یا د خپلې میرمنې یا هم د عرفي قانون د ملګرې لپاره د** GST/HST کریډټ ته **GST/HST کریډټ د هغه کسانو لپاره چې د کاناډا اوسیدونکی کیږې د غوښتنلیک فورمې (RC151) په ډکولو سره خپل غوښتنلیک** و سی ار ای ته واستوئ.

فورمې د **canada.ca/cra-forms** څخه د راښکته کیدو وړ دې.

ددې لپاره چې ستاسو د فوایدو تادیات دوام ومومې، تاسو او ستاسو میرمن یا د عرفي قانون ملګرى/ملګرۍ هر کال د اپریل تر ۳۰ پورې وخت لرې چې خپل مالیات تادیه کړې، حتی که چیرې تاسو هیڅ عاید ونلرې. که چیرته تاسو په کیوبیک کې ژوند کوې، تاسو همدارنګه باید یو ولایتي د مالیې بیا ورکړه بشپړه کړئ. ددې لپاره چې کیداې شي CRA یې غوښتنه وکړې نو تاسو خپل رسیدونه او حمایوي اسناد وساتئ.

## آیا تاسو مرستې ته اړتیا لرئ؟

**خپل مالیات په وړیا ډول تادیه کړئ**

که چیرته تاسو یو متوسط عاید او یو د مالیاتو عادي حالت لرئ، تاسو کیدای شي خپل مالیات د یو رضا کار پوسیله په وړیا ډول تادیه کړئ. د زیاتي زدکړې پخاطر، و **canada.ca/taxes-help** ته لاړ شئ یا هم د CRA سره اړیکه ونیسئ. که چیرته تاسو په کیوبیک کې ژوند کوئ، و **revenuquebec.ca/volunteers** ته لاړ شئ او یا هم د کیوبیک ریوینیو یا هم CRA سره اړیکه ونیسئ.

**خپل مالیات په انلاین ډول ترسره کړئ**

تاسو خپل مالیات په انلاین ډول د نیټ فایل NETFILE د تصدیق شوي د مالیاتو د نرم کالي له لارې ترسره کولای شي. یو شمیر د مالي د نرم کالبو بنډلونه او انټرنټي برنامې شتون لري، چې ځیني يې وړیا دي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، و **canada.ca/netfile** ته لاړ شئ.

**بل کس ته اجازه ورکړئ تر څو ستاسو استازیتوب وکړي**

تاسو بل کس ته اجازه ورکولاې شي تر څو د سی ار ای سره ستاسو د مالیاتو د معلوماتو په مدیریت کې مرسته وکړي. د ډیرو معلوماتو لپاره، و **canada.ca/taxes-representative-authorization** ته لاړ شئ.

## د پیسو ورکړه هیر نکړئ!

**د پیسو د مستقیمې ورکړې لپاره نوم لیکنه وکړئ**

مستقیمه د پیسو ورکړه یوه د خپلې مالیې د استرداد او د فوایدو تادیه چې ستاسو حساب ته په یوه مالي نهاد کې اچول شوي د ترلاسه کولو یوه چټکه، آسانه او امن لار ده. په **canada.ca/cra-direct-deposit** کې د نوم لیکنې په اړه ډیر څه زده کړئ.

**د زما حساب لپاره نوم لیکنه وکړئ**

زما حساب تاسو ته ددې وړتیا درکوي چې خپله د عاید مالیه او فوایدو اړوند معلومات په انلاین ډول مدیریت کړئ. تاسو همدا شان د سی ار ای څخه ممکنه د نغدو پیسو ته نا بدل شوي چکونه لیدلای شي، او که چیرته اړینه وي، د یو پیسو د ورکړې د بیا صادریدو غوښتنه وکړئ. و **canada.ca/my-cra-account** ته لاړ شئ.

**خپل معلومات تازه وساتئ**

تر څو د ځنډونو څخه مخنیوی وشي، مطمئین شئ چې ستاسو شخصي معلومات (لکه ستاسو مدني حالت، ستاسو پته، یا ستاسو د بانک حساب) په زما حساب کې تازه دي یا هم CRA سره اړیکه ونیسئ.

## د ډیرو معلوماتو لپاره:

### آنلاین

هغه فواید چې تاسو ورته پر شرایطو برابر یاستي وګورئ، دا زده کړئ چې څنګه غوښتنلیک واستوئ، او دا تخمین کړئ چې تاسو په څومره ترلاسه کړئ. تر ۱۰ کلونو پورې شاته فواید او کریډټ ترلاسه کړئ. لاړ شئ و:

canada.ca/new-to-canada

### د ټلیفون له لارې

د فوایدو لپاره د غوښتنې پخاطر
1-800-387-1193

د نورو پوښتنو لپاره د فورمو د ترلاسه کولو پخاطر
1-800-959-8281

خدمات کانادا
1-866-274-6627

که چیرته تاسو د 867 کوډ د سیمې څخه اړیکه نیولې
1-866-426-1527

ریوینیو کیوبیک
1-800-267-6299

RC629-138

**د هغه دوکه کوونکو څخه چې ځان** CRA در پیژني باخبره واوسئ. کله چې مشکوک یاستي، خپل معلومات په زما حساب کې (My Account) وګورئ او یا CRA سره اړیکه ونیسئ. ددې د زده کړې لپاره چې کله CRA اړیکه ونیسي د څه تمه ولرو، و **canada.ca/taxes-fraud-prevention** ته لاړ شئ.

Canada Revenue Agency | Agence du revenu du Canada

Canada